

# ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او تــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

# ابادي اوونيزه

هفته نامـه آبـادی

ګڼـــه: ١٦ | مسلسل نمبر: ١٠٦

پنجشنبه، د محرم الحرام ۲۸مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د توليدي فابريکو کمپلکس پرانيست



۲ صفحه

## ملي تدارکاتو کمېسيون د ۸۲۸ میلیون افغانيو په لګښت شپږ پروژې منظورې کړې



۲ مه صفحه

## د کبانو سکټور د پراختيا طرحه د تاييد وړ وبلل شوه



۳مه صفحه



## سرليکنه

د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند له لـــوري د روان ۱۴۰۴ لمريـــز کال د سرطان مياشـــتې په ۳۰مه نېټـــه په ملي پراختيـــا شرکت کې د ځو توليدي فابريکو کمپلکس پرانيستل شـــو. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرســـتيال د توليدي فابريکو د دغه کمپلکس بيا فعالول د داخلي توليداتو او صنايعو د ودې او پراختيا په برخه کې بنسټيز ګام وباله او زياته يې کړه، چې په دې سره به پر بهرنيو توليداتو د افغانستان تکيه راکمه او د کورني صنعت په پياوړتيا او پراختيا  کې به د پام وړ مرسته وکړي.

دا يو واقعيت دی چې غښتلی صنعتي سکټور د يوه هېواد په اقتصادي پرمختګ کـــې ستره ونډه لري، له اقتصادي پلوه هغه هېوادونه چې نن سبا په نړۍ کې پرمختللي دي، هغه د خپل صنعتي ســـکټور په غښـــتلي کولـــو سره دې ځای ته رســـېدلي دي؛ نو که وروســـته پاتې او مخ پر ودې هېوادونه غواړي خپل اقتصادي پرمختـــګ چټک کړي، دوی بايد د خپل صنعت د پرمختګ له پاره پرېکنده ګامونه پورته کړي. مخ پر ودې هېوادونـــه پريمانه اومه مواد او طبيعي سرچينې لـــري، خو دا چې صنعت يې کمـــزوری دی، له همدې امله خپل اومـــه مواد پرمختللو هېوادونو ته صادروي او هلته دغه اومه مواد په صنعتي توکو بدل او بېرته په همدې هېوادونو په لـــوړه بيه پلورل کېږي. که يو هېواد هـــر څومره خام مواد او منابع ولري، خو چې په توليداتو د دغو سرچينو د بدلولو ځواک او وړتيـــا ونه لري، نو بيا به هم نـــورو ته محتاج او اړ وي. د صنعت په پښو درول د دې کار مخنيوی کوي او يوه ټولنه يا هېواد د اقتصادي ځان بسياينې او خپلواکۍ پر لوري بيايي. اسلامي امارت د صنعت ارزښت ته په کتنې سره په دې شـــاوخوا څلورو کلونو کې د صنعتـــي فابريکو د بيا فعالولو او جوړولو په برخه کې د خصوصي ســـکټور بشپړ ملاتړ کړی او له دې املـــه اوس د افغانســـتان په کچه يو زيات شـــمير فابريکې فعالې او جوړې شوې او بېلا بېل توکي توليدوي.

افغانســـتان له اشـــغال وړاندې څه ناڅه صنعت درلود، خو د اشـــغال له امله د دې پرځای چې صنعت پرمختګ وکړي، صنعتـــي فابريکې ټولې د جګړې په اور کې وســـوځيدلې. د اسلامـــي امـــارت پـــه راتګ سره صنعـــت ته پام وشـــو او صنعتکارانو ته د صنعت په برخه کې ډېرې اسانتياوې برابرې او د هېواد په کچه يو زيات شمېر توليدي او صنعتي فابريکې فعالې شوې. د دې ترڅنګ اسلامي امارت اماراتي شرکتونه هم فعال کړي دي چې يو يې د ملي پراختيا شرکت دی. دغه شرکت توانېدلـــی چې ټولې هغه فابريکې د يوه کمپلکس په بڼـــه بېرته ورغوي چې چارې په ټپـــه ولاړې وې. د توليدي فابريکـــو دغه کمپلکس اوســـمهال د قوش تيپـــې کرنيزو کمپلکسونو لپاره د ماشين آلاتو او کرنيزو وسايلو، د صنعتي او کوچنيو فابريکو ماشين الاتو، ترانســـپورټي وسايطو، فلزي عناصرو، برقي وسايلو، مختلفو پرزه جاتو او د کانالونو او اوبو بندونو د دروازو د قطعاتو په شمول ۱۰۵ ډوله توليدات لري. د دې توليداتو په برکت به افغانســـتان وکولای شي، چې له نـــورو هېوادونو څخه په دې برخو کې نور واردات ونه لري. د دې وارداتو په درېدو سره به له يوه لوري له هېواده د اسعارو د ايستلو مخه ونيول شي او له بل لوري به د وخت په تېرېدو سره د هېواد صنعت وغوړېږي. د صنعت په غوړېدو سره به د هېـــواد اقتصـــاد غښـــتلی او هېـــواد بـــه د پرمختـــګ په لور حرکت پيل کړي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تولیدي فابریکو کمپلکس پرانیست

د ریاستالوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري نــن د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشــتې په ۳۰مه نېټه په ملي پراختیــا شرکت کې د څو تولیدي فابریکو کمپلکس پرانیستل شــو. د ریاستالوزراء اقتصادي مرســتیال د تولیدي فابریکو د دغه کمپلکس بیا فعالول د داخلي تولیداتو او صنایعو د ودې او پراختیا په برخه کې بنسټیز ګام وباله او زیاته یې کړه، چې په دې سره به پر بهرنیو تولیداتو د افغانستان تکیه راکمه او د کورني صنعت په پیاوړتیا او پراختیا کې به د پام وړ مرسته وکړي. محترم ملا صاحب وویل، د تولیدي فابریکو دغه کمپلکس کې به ډېرو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي، د ســیمه ییزو او بهرنیو بازارونو په نسبت به هېوادوالو ته په ارزانه بیه تولیدات



وړاندې شي او په لویه کې به دغه کمپلکس د هېواد د ملي اقتصاد په تقویه کې مؤثر رول ولوبوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند یوځل بیا پر ټولو پانګوالو او تجارانو غږ وکړ چې راشي او په افغانســتان کې پانګونه وکړي. د دغه په خبره، اوســمهال په افغانســتان کې د هر ډول لویو، متوسطو او کوچنیو پانګونو لپاره ښه زمینه برابره شوې ده. په پای کې د ریاســتالوزراء اقتصادي مرستیال د ملي پراختیا شرکت له مسوولینو مننه وکړه چې دغه تولیدي فابریکې یې له ۶۰ کلن ځنډ وروســته بیا فعالې کــړې او له هغوی یــې په ټینګار وغوښتل چې هېوادوالو ته باکیفیته تولیدات وړاندې کړي. د یادونې وړ ده چې د تولیدي فابریکو دغه کمپلکس اوسمهال د قوش تېپې کرنیزو کمپلکسونو لپاره د ماشین آلاتو او کرنیزو وســایلو، د صنعتــي او کوچنیــو فابریکو ماشــین الاتو، ترانسپورتي وســایطو، فلزي عناصرو، برقي وسایلو، مختلفو پــرزه جاتو او د کانالونو او اوبو بندونــو د دروازو د قطعاتو په شــمول ۱۰۵ ډوله تولیدات کوي، چې یوشمېر تولیدات یې نندارې ته هم وړاندې شول.

# ملي تدارکاتو کمېسیون د ۸۲۸ میلیون افغانیو په لګښت شپږ پروژې منظورې کړې

د ریاستالوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شــوه. دغه غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۳۱مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. د



ملي تدارکاتو کمېسیون دې غونډې ته له اجنډا سره سم ۲۸ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شــوې. له بحث وروسته ۱۹ پروژې تعدیل، د ۸۲۸ میلیون افغانیو په ارزښت شپږ پروژې منظورې او د یوې پروژې قرارداد فســخه شو. همدارنګه د یوې پروژې په اړه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه څو یې بیاځلي تدارکاتي پروسه و ارزوي او د یوې بلې پروژې په اړه ټاکل شــوې کمېټې ته دنده وســپارل شــوه، څو له ګټونکي شرکت سره د پروژې د قیمت په اړه مذاکره ترسره او راپور یې د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. په تعدیل شوو او منظور شوو پروژو کې د کابل ښار د یوشمېر داخلي ســړکونو جوړول او په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا رسونې او توزیع پروژو د پاتې چارو بشپړول شامل دي. منظور شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.

ABAADI ONLINE WEEKLY
اباديِ
د اقتصــادي او ټــولنیزو مسایلـــو په برخــه کــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

# په لغمان کې د سوداګریز مارکېټ او په اسلام کلا بندر کې د سوداګریز کمپلکس جوړولو طرحې د تایید وړ وبلل شوې



د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشــتې په ۲۴مــه نېټه په مرمرینه مانۍ کې ترسره شــوه. غونډې ته له اجنډا سره ســم په لغمان ولایت کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت پر ځمکه د ســوداګریز مارکېټ جوړولو او د هرات ولایت په اسلام کلا بندر کې د سوداګریز کمپلکس جوړولو طرحې د تاییــدۍ لپاره وړاندې شــوې. له هراړخیــزې ارزونې وروســته یادې طرحې د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې له لوري د تایید وړ وبلل شوې.

دې غونډې ته په کابل ښار کې د سوداګریز او استوګنیزو مارکېټ جوړولو او همداراز د هېواد د اقتصادي ودې لپاره د ستراتیژیــک چوکاټ جوړولو طرحې هــم د بحث لپاره وړاندې شــوې. د یادو طرحو د هراړخیــزې ارزونې لپاره کمېټې وټاکل شــوې، څو په ټاکلي وخت خپل راپورونه د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې سره شریک کړي

# د کبانو سکتور د پراختیا طرحه د تایید وړ وبلل شوه

د اقتصادي کمېســیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۳۰مه نېټه په مرمرینه مانۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د کبانو ســکتور د پراختیا طرحه او همداراز د کرنې او مالدارۍ ســکتور د پراختیا پالیسي د بحث لپاره وړاندې شوې.



له هراړخیز بحث وروسته د اوبو او انرژۍ وزارت د نظر په پام کې نیولو سره د کبانو ســکتور د پراختیا طرحه د تاییــد وړ وبلل شــوه. د دې طرحې لــه مخې په ټول هېواد کــې د کبانو روزنې ۷۷۰۰ فارمونه جوړیږي، چې تر ۹۰ ســلنې به د کبانو غوښــې په برخه کې د هېواد اړتیا پــوره او ۳۰۰ زره هېوادوالو ته به په مســتقیم او غیر مســتقیم ډول د کار زمینه برابره کړي. یاده طرحه د نهایــي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېســیون ته راجع شوه.

د اقتصادي کمېســیون تخنیکــي کمېټې په دې غونډه کې د کرنې او مالدارۍ ســکتور د پراختیا پر پالیســي هم بحث وشــو. لــه هراړخیز بحث وروســته د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت مســوولینو ته سپارښــتنه وشــوه، څو په دې پالیسۍ کې د اوبو او انرژۍ وزارت نظرونــه ځــای پرځای او نهایــي بڼه یــې د تخنیکي کمېټــې راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اوونیزه ابادي
هفته‌نامه آبادی

# اخبار اقتصادی هفته

## تاکید امارت اسلامی افغانستان بر توسعه صنعت و حمایت از تولیدات داخلی در کشور

سرپرست وزارت صنعت و تجارت دربرنامه افتتاح مرکز جمع‌آوری عواید از صدور تصدیق‌نامه مبدا و ثبت انوایس، بر اهمیت توسعه صنعت در افغانستان تاکید کرده و گفته است که امارت اسلامی افغانستان از صنعت کاران پشتیبانی می‌کند. نورالدین عزیزی افزوده که افغانستان در سال‌های پیش بیشتر به‌عنوان یک کشور مصرفی شناخته می‌شد و نیازمندی‌های خود را عمدتاً از خارج تامین می‌کرد اما اکنون، تمرکز بر تولید داخلی افزایش یافته و افغانستان توانسته در بیش از ۱۳۰ سکتور صنعتی به خودکفایی برسد. نورالدین عزیزی سرپرست وزارت صنعت و تجارت گفت: «امارت صنعت را حمایت می‌کند. این‌طور نیست که ما در روی تجارت به سنگ یا با چوب بزنیم تمامش وجود ما است. یک تجار باید یک صنعت‌کار شود. در افغانستان باید صنعت را ما و شما احیا کنیم به‌خاطر چی؟ به‌خاطر نیازمندی و ضرورتی که ما داریم.» شیرین‌آغا سخی رییس اتاق پیشه‌وران و دکان‌داران کشور نیز گفت: «همین سکتور خصوصی، همه ما یکی هستیم و یک فامیل هستیم. بین ما هیچ فرقی وجود ندارد. اگر پیشه‌ور هستیم تاجر هم هستیم، اگر پیشه‌ور هستیم صنعت‌کار هم هستیم.» درسویی هم، مسوولان در اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری و اتاق صنایع و معادن از ایجاد این مرکز پشتیبانی خود را اعلام کرده‌اند. این درحالی‌ست که چندی پیش وزارت صنعت وتجارت در نشست گزارش‌دهی سالانه‌اش گفته بود که برای صنعت‌کاران عودت‌کننده امتیازاتی چون معافیت مالیاتی داده شده و در یک‌سال گذشته ۴۰۰ میلیون دالر سرمایه جذب شده و بیش از ۱۱۰۰ سرمایه گذار افغان به کشور بازگشته‌اند.

## تبدیل کابل به شهر معیاری در ده سال آینده؛ هدف‌گذاری شاروالی کابل

مسوولان در شاروالی کابل تاکید می‌کنند که زیربنا ها شهری از اولویت‌های اساسی این نهاد بوده و آنان تلاش دارند که تا ده سال آینده، کابل در میان شهرهای معیاری جهان قرار گیرد. به گفته مسوولان، این اداره در سال گذشته نزدیک به هفت میلیارد افغانی از بخش‌های مختلف عواید گردآوری کرده‌است، که عواید این نهاد در چهار سال پسین را به ۲۴ میلیارد افغانی می‌رساند. شاروالی کابل می افزاید که در یک سال گذشته ۸۳ کیلومتر جاده جدید ایجاد و ۵۸ کیلومتر جاده دیگر بازسازی شده است. عامر زمرک یاسر معین ساختمانی شاروالی کابل گفت: «در چهار سال گذشته نزدیک به ۳۰۰ کیلومتر از سرک‌های عمومی و فرعی جور و به بهره‌برداری سپرده شده است و تنها در بخش سرک سازی در حال حاضر کار ۱۱۵ پروژه جریان دارد." شهرداری کابل همچنین از استملاک یک‌هزار و ۸۶ جایداد در سال گذشته خبر می‌دهد که بیش از ۱.۷ میلیارد افغانی به مالکان پرداخت شده است و این روند ادامه دارد. بودجه ی شاروالی کابل برای سال روان ۱۱.۶ میلیارد افغانی تعیین شده که ۷۰ درصد آن به پروژه‌های انکشافی اختصاص یافته است. نعمت‌الله بارکزی نماینده شاروالی کابل می گوید: «در بخش استملاک شاروالی کابل یک‌هزار و ۸۶ جایداد را استملاک کرده که یک اعشاریه هفت میلیارد افغانی برای‌شان خساره ساختمان داده شده است و اگر به شکل مجموعی بگویم در مدت چهار سال گذشته ما در حدود سه میلیارد افغانی برای هموطنان خساره ساختمان پرداخت کرده‌ایم و این موضوع روزانه جریان دارد." محمد قاسم افغان رییس پلان، پالیسی، نظارت و ارزیابی شاروالی کابل نیز می‌گوید: «تاکید شهردار کابل همیشه این است که ما باید در بخش پروژه‌ها، به زیربنا و توسعه توجه خاص داشته باشیم تا این ازدحام شهری ازبین برود." شاروالی کابل از آغاز و پیشرفت در پروژه‌هایی چون جاده های کابل-لوگر، کابل-جلال‌آباد، کوتل خیرخانه و جاده کمپنی سخن می‌زند و تاکید دارد که این پروژه‌ها در زمان تعیین شده تکمیل خواهند شد. به گفته مسوولان در پروژه های گوناگون شاروالی کابل، برای صدها تن از هموطنان کشور زمینه کار نیز فراهم شده است.





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه آبادي

هفته‌نامه آبادی

# یک بازگشته‌ی افغان در قندهار، کارخانه‌ی تولید صابون ساخته است

یک افغان بازگشته از پاکستان، کارخانه‌ای برای تولید صابون در ولایت قندهار راه‌اندازی کرده است. او همراه با اعضای خانواده‌اش روزانه تا ۵۰ کیلوگرام صابون تولید می‌کند؛ اما برای گسترش کارش خواهان حمایت حکومت است. عبیدالله مسؤل کارخانه تولید صابون گفت: «کیفیت محصولاتم خوب است، بازار فروش خوبی دارد، مشتری زیاد است و روزانه تا پنجاه کیلوگرام تولید داریم.» او در ناحیه دوم شهر قندهار، در خانه‌ای کرایه، با هزینه‌ی ۶۰۰ هزار افغانی، کارخانه‌ای برای تولید صابون لباس‌شویی تأسیس کرده است. عبیدالله افزود: «اگر دولت در ساخت کارخانه به ما کمک کند، کسب‌وکار ما حتی بیشتر رشد خواهد کرد.» مسوول کارخانه تولید صابون می‌گوید که محصولاتش از نظر کیفیت در منطقه بی‌نظیر است؛ اما به‌دلیل مشکلات اقتصادی نمی‌تواند کارش را گسترش دهد. در همین حال، مسؤلانبر حمایت از مهاجرانی که پس از بازگشت به کشور اقدام به راه اندازی کسب‌وکار کرده‌اند، تأکید دارند. به گفته‌ی مسؤلان، برای ثبت و زمینه‌سازی اشتغال برای افغان‌های مسلکی بازگشته از ایران و پاکستان، کمیته‌های کاری از سوی امارت اسلامی در تمام گذرگاه‌های کشور فعال شده تا در زمینه راه‌اندازی مجدد کسب‌وکارها با آنان همکاری کنند.



# د افغان-ټرانس اوسپني پټلۍ پروژه:
## د سیمه‌ییز اتصال او سوداګرۍ پر لور نوی ګام

زاهد

### سریزه

افغانستان په تاریخي لحاظ د لویو امپراتوریو ترمنځ د ټکر او جګړو ځای پاتې شوی. د تاریخ په اوږدو کې لرې او نږدې یرغلګرو د افغانستان د نیولو هڅې کړې، خو هېڅ یرغلګر دلته دایمي پاتې شوی نه دی. د دغو یرغلونو اصلي لامل د افغانستان جغرافیوي او سوداګریز موقعیت و. افغانستان څو پېړۍ نه یوازې د سیمې د هېوادونو، بلکې د لرې هېوادونو ترمنځ د اتصال او سوداګرۍ د مرکز په توګه رول لوبولی دی. د نړۍ لویو هېوادونو غوښتل چې افغانستان د اقتصادي او سیاسي موخو ترلاسه کولو له پاره ونیسي، خو په دې هڅو کې بریالي نه شول.

افغانستان د ورېښمو لارې په مسیر کې پروت و او د سیمه ییز اتصال په بشپړتیا کې یې مهم رول درلود. د منځنۍ او سویلي اسیا ترمنځ د سوداګریزو اړیکو په ټینګولو کې یې مهم رول درلود. افغانستان اوس هم د منځنۍ او سویلي اسیا ترمنځ د ترانزیتي اړیکو ټینګولو له پاره خپل حیثیت ساتلی دی او د سیمې ډېری هېوادونه اړ دي چې د افغانستان له لارې خپلمنځي سوداګریزې اړیکې ټینګې کړي.

د اوسپني پټلۍ له لارې سوداګري ارزانه او چټکه پرېوزي. افغانستان د دې وړتیا لري چې د سیمې هېوادونه د اوسپني پټلۍ له لارې له یو بل سره ونښلوي. د افغانستان اسلامي امارت هڅې کوي چې په هېواد کې د اوسپني پټلۍ شبکې ته پراختیا ورکړي او یاد هېواد د سیمې د هېوادونو ترمنځ د وصل نقطه وګرځي. د افغان-ټرانس اوسپني پټلۍ پروژه چې ازبکستان-افغانستان او پاکستان سره نښلوي، د سیمه ییز اتصال یوه مهمه پروژه ده چې افغانستان په کې مرکزي رول لوبوي.

### د افغان-ټرانس اوسپني پټلۍ پېژندنه

د افغان-ټرانس اوسپني پټلۍ پروژه د سیمه ییز اتصال او د اسیا د یو شمېر مهمو هېوادونو د نښلولو مهمه پروژه ده، چې افغانستان په کې مهم رول لوبوي. د افغان-ټرانس اوسپني پټلۍ پروژې طرحه په لومړي ځل په ۲۰۱۸ کال کې وړاندې شوې وه، خو د ځینو لاملونو له امله د طرحې عملي کولو په لور د پام وړ ګامونه وانخیستل شول.

دغه پروژه د ازبکستان له ترمذ ښار څخه پیلېږي او د افغانستان مزار شریف ښار سره نښلول کېږي. له دې وروسته به اوسپني پټلۍ کابل، لوګر او بیا د خرلاڅي له لارې پاکستان ته ننوزي او د پاکستان له بحري سوداګریزو بندرونو سره به ونښلي.

د دغې اوسپني پټلۍ اوږدوالی شاوخوا اووه سوه کیلومتره دی چې ټول لګښت یې تر اووه میلیارده ډالرو رسېږي. تمه کېږي چې د ۲۰۲۷ کال تر پایه به د یادې پروژې چارې بشپړې شي.

د دې پروژې هدف د افغانستان له لارې د سیمې هېوادونو ترمنځ سوداګرۍ ته پراختیا ورکول دي. د منځنۍ اسیا هېوادونه، په ځانګړې ډول ازبکستان غواړي چې د پاکستان بحري سوداګریزو بندرونو ته لاسرسی ولري.

نه یوازې ازبکستان، افغانستان او پاکستان د دې پروژې



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه آبادي
هفته‌نامه آبادی


د پلي کېدو لېوالتیا لري، بلکې د قزاقستان او روسیې په ګډون ځینو هېوادونو د دې پروژې ملاتړ کړی او د پلي کېدو په برخه کې یې د همکارۍ ټینګ وعده کړې ده.

## د پروژې اقتصادي ارزښت

لکه پورته چې وویل شول، دغه پروژه د سیمې د هېوادونو ترمنځ د نښلون مهمه پروژه ده. د سیمې ټول هېوادونه له دې پروژې څخه ګټه ترلاسه کوي. د ازبکستان او د منځنۍ اسیا د نورو هېوادونو سوداګریز توکي به په لږ وخت او کم لګښت نورو هېوادونو ته انتقالېږي.

دغه پروژه افغانستان ته هم ډېر لوړ اقتصادي ارزښت لري. د پروژې د پلي کېدو سره به په هېواد کې د صادراتو او وارداتو کچه لوړه شي. په وچه کې ایسار افغانستان به وکولی شي چې په لږ وخت او لږ لګښت سره نورو هېوادونو ته خپل مهم صادرات لکه وچه او تازه مېوه او کاني مواد او نور ولېږدوي. دغه راز، افغانستان به وکولی شي چې له نورو هېوادونو څخه اسانه او ارزانه واردات ولري.

د صادراتو او وارداتو د کچې لوړېدو سربېره به افغانستان د نورو هېوادونو د مالونو د لېږد له لارې د ترانزیټ فیس ترلاسه کړي چې له دې سره به د هېواد د عوایدو کچه لوړه شي. د دې ترڅنګ به ګڼ شمېر هېوادوالو ته د کار زمینه هم برابره شي.

## د سیمه‌ییز اتصال پیاوړتیا

دغه پروژه د سیمې د هېوادونو ترمنځ د نښلون مهمه پروژه ده. د سیمې ټول هېوادونه له دې پروژې څخه ګټه ترلاسه کوي. د ازبکستان او د منځنۍ اسیا د نورو هېوادونو سوداګریز توکي به په لږ وخت او کم لګښت نورو هېوادونو ته انتقالېږي.

دغه پروژه افغانستان ته هم ډېر لوړ اقتصادي ارزښت لري. د پروژې په پلي کېدو سره به په هېواد کې د صادراتو او وارداتو کچه لوړه شي. په وچه کې ایسار افغانستان به وکولی شي چې په لږ وخت او لږ لګښت سره نورو هېوادونو ته خپل مهم صادرات لکه وچه او تازه مېوه او کاني مواد او نور ولېږدوي. دغه راز، افغانستان به وکولی شي چې له نورو هېوادونو څخه اسانه او ارزانه واردات ولري.

د صادراتو او وارداتو د کچې لوړېدو سربېره به افغانستان د نورو هېوادونو د مالونو د لېږد له لارې د ترانزیټ فیس ترلاسه کړي چې له دې سره به د هېواد د عوایدو کچه لوړه شي. د دې ترڅنګ به ګڼ شمېر هېوادوالو ته د کار زمینه هم برابره شي.

ترلاسه کړي چې له دې سره به د هېواد د عوایدو کچه لوړه شي. د دې ترڅنګ به ګڼ شمېر هېوادوالو ته د کار زمینه هم برابره شي.

## پایله

د افغان-ټرانس پروژه د سیمه ییز اتصال له پاره یوه مهمه پروژه ده. د دې پروژې د عملي چارو د پیل له پاره هڅې کېږي او افغانستان ډېر لېواله دی چې یاده پروژه پلي شي. افغانستان د سیمې د هېوادونو ترمنځ په اتصال او د سیمې په اقتصادي وده کې مهم رول لوبولی شي.

دا پروژه به د ټولو اړوندو هېوادونو د پرمختګ او سوداګرۍ د پراختیا لامل وګرځي. دا پروژه د افغانستان د اقتصادي تحول له پاره یو ښه فرصت برابروي. افغانستان به د دې پروژې له لارې ډېره اقتصادي ګټه ترلاسه کړي. د بېکارۍ کچې کموالی، صادراتو او وارداتو کې زیاتوالی او د عوایدو کچې لوړېدو لامل به وګرځي.

# د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۶۸,۶۵؋ | ۶۸,۷۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲۳۲؋ | ۲۳۳؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۰,۷۹؋ | ۰,۸۰؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۸۰,۸۳؋ | ۸۰,۸۹؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۹؋ | ۰,۸۹؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۷۹۵؋ | ۷۹۶؋ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ۹۳,۲۲؋ | ۹۳,۲۹؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۸,۳۰؋ | ۱۸,۳۱؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۶۹؋ | ۱۸,۷۱؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۵۹؋ | ۹,۶۰؋ |

